AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی ۲۰۲۴/۱۱/۱۹

# د تاریخ په تاخچو کې، د رڼا څرکونه



ولي الله ملکزی

په اتمې هجري پیړۍ کې زېږېدلی د عربي نړۍ تر ټولو مشهور تاریخپوه، ټولنپوه او اقتصاد پوه، ابن خلدون په خپل مشهور کتاب (المُقَدِمَة) کې د تاریخ عناصر او موخې په څلورو ټکو کې رانغاړي: «انسان، ماضي، چاپېریال او د پېښو لاملونه». نوموړی په دې باور وو چې تاریخ د ولسي هویت پېژندنې علم او د پېښو د لټون ځانګړی هنر دی. البته، زیاترو مورخینو مازې په روایتونو باندې لنګر اچولی او د عامو پرکنو ورځنی بهیر یې تر ډېره ځایه له پامه غورځولی او هغو ته نه دي تم شوي.

له نیکه مرغه، زموږ د هېواد معاصر او بې جوړې تاریخپوه، پوهاند عبد الحی حبیبي د همدغو ټکو په پام کې نیولو سره د «تاریخ افغانستان بعد از اسلام» ترعنوان لاندې داسې مستند او هر اړخیز کتاب لیکلی چې د نظر مخالفین یې هم د یوې معتبرې او ډاډمنې سرچینې په توګه مني. په دې کتاب کې افغانستان ته د اسلام د څرکونو له را رسېدو وړاندې، د زردښتي، بودایي، برهمني ادیانو او د ساسانیانو، کوشانیانو، یفتلیانو او د هغه مهال په معاصرو مدنیتونو باندې کافي رڼا اچول شوېده.

دلته لولو چې زموږ سیمې ته راغلو چینایي سیالانیانو پخپلو سرسري یونلیکونو کې څه کاږلي او عربو راویانو پخپلو متونو او حاشیو کې د خراسان، کابلستان او ماوراء النهر په هکله څه نقل کړیدي؟

په دې تاریخي کتاب کې د امویانو او عباسیانو د خونړیو ترېګنیو تر اړخه، د سنیانو او شیعه ګانو د مذهبي اختلافاتو توري وریځې هم له ورایه برېښي. دلته یوازې په روایتونو بسیا نه ده شوې، بلکې څېړنیز اړخ یې هم ډېر غښتلی او متوازن دی. د بېلګې په توګه؛ د راشده خلافت په پېر کې چې د فتوحاتو موخه اسلامي دعوت او د توحیدي عقیدې خپرول دي؛ د راز راز شِرکیاتو سره کلکه مبارزه هم په بې پرې بڼې انځور شویده. خو کله چې د عباسیانو په وخت کې یوناني فلسفه او منطق ژباړل کیږي، موسیقي پراخیږي، د خلفاوو دربارونو ته د عجمو کلتور ننوزي او قصرونو ته د مجسمو ډالی کول عادي خبره ګڼل کیږي، نو مولف د دغه ستر بدلون یادول اړین ګڼي او بیا بیا یې د لوستونکو مخې ته ږدي.

د ډېرې خوښۍ ځای دی چې د پوهاند حبیبي همدا تاریخي شاهکار د افغانستان د علومو اکاډمۍ شمله ور لیکوال، څېړنپوه ډاکټرعبدالقیوم زاهد مشواني له دري څخه پښتو ته ژباړلی دی. ډاکټر مشوانی په ۱۳۵۶ لمریز هجري (۱۹۷۷م) کال کې د کونړ د غازي آباد ولسوالی د بارکام په هغه ښکلي کلي کې زېږېدلی چې د دنګو غرونو لمنې یې د خنځزو، ګورګرو او غوړاسکو خوشبویه بوټو پوښلي دي. لېسه یې د کوزې پښتونخوا په تېمرګرې کې لوستې، لېسانس او ماسټري یې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي له پښتو څانګې څخه اخیستې او تېر کال یې د پېښور پوهنتون، پښتو اکاډمي څخه خپله ډاکټري/ PHD ترلاسه کړېده.

(د افغانستان تاریخ؛ تر اسلام څرک وروسته) څلور څېرکي او ۱۱۳۴ مخونه لري؛ د علامه حبیبي څېړنیز مرکز له خوا خپور او د قلم کتابپلورنځي یې د چاپ چارې سرته رسولي دي. په لومړني څېرکي/ فصل کې د افغانستان ټولیز وضعیت، ادیان او واکمني شاهي کورنۍ څېړل شویدي. په دوهم څېرکي کې د امویانو د جنډې لاندې د اسلامي فتوحاتو لړۍ، د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کابل، زابلستان هرات جنګونه او په سند او ملتان کې د محمد بن قاسم د لښکرو په سوبو باندې تفصيلي خبرې شوېدي. په دريم څپرکي کې د عباسي خلافت پيل او خليفه ګان، د ابومسلم خراساني پاڅون او پاېلې او د برمکيانو او طاهريانو راڅرګندېدل ښه شاربل شوېدي. وروستنی فصل يې په نننی افغانستان او ګرد چاپېره اقليم کې د اسلام خپرېدل او د پراخو پرګنو ټولنيز، فکري او مذهبي حالت تشريح کوي او لوستونکي له هغه څه سره آشنا کوي چې پخوا يې ورسره ډېره کمه آشنايي درلودله.

د کتاب ژباړه ډېره روانه، لهجه يې خوږه او په فهرست او ماخذونو کې د علمي ميتودونه په پام کې نيول شوېدي. ما ټول کتاب نه دي لوستي، البته کومي برخې چې ما مطالعه کړې نو خال خال مې طباعتي غلطۍ او املائي تېروتنې مې ترسترګو شوې کوم چې په دې ډول کتابونو کې طبيعي بهير ګڼل کيږي. په دې ګردې نړۍ کې يوازينی کتاب چې «لَا رَيْبَ فِيهِ» او غلطۍ نه لري، هغه سپېڅلی قرآنکريم دی.

د څېړنپوه مشواني د چاپ او ناچاپه کتابونو شمېر له دېرشو څخه اَوړي، ولی د زاهد پښتو پښتو سيند (قاموس)، د وزارت معارف په چوکاټ کې د اتم ټولګيو لپاره درسي پښتو نصاب او د امير عبدالرحمن خان د تاج التواريخ ژباړه جلا ارزښت او ځانګړی مقام لري. همدا شان، د پښتو ادب د تاريخي بهير کره کتنه، انسان په نا آشنا جزيره کې (ناول)، په پښتو منظوم ادب کې د مبارزې څرک، پر پښتني کلتور د وروستېو جنګونو اغېز، له پښتو سره د ګوري او ساوي ژبې پرتلنه او مشواني څوک دي؟ نورې هغه پنځونې دي چې د تاريخ او ادب ترې تر ډېره ځايه څرګوبولای شي.

زه د تاريخ څانګې د يو شاګرد په صفت، په دې کتاب کې ډېر داسې څه وينم او زدکړه ترې کوم چې د پوهنتون په څلور کلنې دورې کې مې نه دي لوستلي. له همدې امله هغو دوستانو ته يې د مطالعې بلنه او سپارښتنه کوم چې د اسلام، عربانو، افغانستان او د دې پلني او سوره ورې سيمې د انسان، تاريخ او ماضي سره دلچسپي لري. په پای کې خپل درون دوست، ډاکټر مشواني ته د لازياتو علمي او اکاډميکو خدمتونو او برياوو هيله لرم. قلم يې تل له رنګونو او ذهن يې همېشه له رنګينو خيالونو ډک.

---

يادونه: په مننې سره، که لوستونکي وخت او علاقه لري، نو کولای شي د ملکزي نوري ليکنې او څيړنې د هغه په فيسبوک، لنکد ان او د يوټيوب په چينل کې ولولي او وګوري؛ ادرس يې دا دی: Wali Malakzay

[د ليکوال نورې ليکنې په دې لينک کې ولولئ](#)



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ